څوک چې په قسم سوګند یاد کړي په داسې حال کې چې هغه پکې دروغجن وي ترڅو پرې د یو مسلمان مال په ناروا تر لاسه کړي، نو د الله تعالی د مخ کېدو پر مهال به پرې هغه غصه وي

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: «څوک چې په قسم سوګند یاد کړي په داسې حال کې چې هغه پکې دروغجن وي ترڅو پرې د یو مسلمان مال په ناروا تر لاسه کړي، نو د الله تعالی د مخ کېدو پر مهال به پرې هغه غصه وي» وایي چې اشعث وویل: « قسم په الله چې زما سره داسې شوي و؛ زما او د یو یهودي تر منځ د ځمکې په سر شخړه وه نو هغه راته انکار وکړ، ما هغه د پیغمبر ﷺ حضور ته راووست، نو رسول الله ﷺ راته وویل: «آیا ته ثبوت لرې؟» ما وویل: «نه» وایي: بیا یې یهودي ته وویل: «قسم وکړه» وایي: ما وویل: «اې الله رسوله! هغه به قسم وکړي او زما مال به واخلي. نو دا و چې الله تعالی دا آیت نازل کړ: {إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا} د آیت تر پایه، یعنې: هغه خلك چې د الله ټرون او خپل قسمونه په لږه بیه پلوري.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په الله تعالی د قسم کولو په اړه خبرداری ورکړی چې که چا قسم وکړ پداسې حال کې چې هغه پوهېده چې پکې دروغجن دی، تر څو پدې قسم سره د بل چا مال تر لاسه کړي؛ نو ژر دی چې د الله تعالی سره به په داسې حال کې مخ شي چې هغه به پرې غصه وي، نو اشعث بن قیس رضي الله عنه وویل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وینا هغه مهال وکړه، کله چې زما او د یو یهودي تر منځ د یوې ځمکې د ملکیت په سر دعوه وه، نو دواړه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د پریکړې لپاره ورغلل، هغه اشعث ته وفرمایل: ته باید ثبوت وړاندې کړې تر څو دې پرې دعوه ثابته کړې، که یې نه شې کولی، نو پرته لدې بله لار نه لرې چې مقابل لوری درته قسم وکړي، نو اشعث وویل: اې د الله رسوله! نو یهودي خو قسم کوي او هېڅ پروا نه ساتي او زما مال به واخلي، همدا و چې الله تعالی دا آیت نازل کړ: {إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ} بېشکه هغه کسان چې اخلي او بدلوي {بِعَهْدِ اللَّهِ}، د الله تعالی ټرون او د امانت په اړه یې مؤمنانو ته سپارښتنې {وَأَيْمَانِهِمْ} او په دروغو سره د هغه په نوم په قسم یادولو سره، تر څو پرې {ثَمَنًا قَلِيلًا} د دنیا له منځه تلونکي ناچیزه څه تر لاسه کړي. {أُولَئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ} نو دا هغه خلک دي چې په اخرت کې د دوی لپاره څه برخه نشته {وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ}، او الله تعالی به له دوی سره د دوی په ګټه خبرې ونه کړي، بلکې پرې به غصه وي، {وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ}، او د رحمت او نیکۍ په نظر به ورته ونه ګوري {وَلَا يُزَكِّيهِمْ} او نه به یې په ښې ستاینې او ښېنې سره له ګناهونو او چټلیو پاک کړي، {وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} او شته دی د دوی لپاره دردناک عذاب، د هغه څه له امله چې دوی کړي دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2980